





# هر زده کوونکی:
# یو غږ.
# یو خوب.
# یو روښانه راتلونکی.

FEDERAL WAY دولتي ښوونځي

**ستراتیژیک پلان، 2021-2025**

له
**21,000**
څخه زیات
زده کوونکي

**107**
ژبې



نږدې
**3,000**
کارمندان



**35**
مربع میله ساحه
کې خدمات
وړاندې کوي



**37**
ښوونځي





# زموږ اساسي باورونه

- موږ باور لرو چې هر زده کوونکی کولای شي په لوړه کچه زده کړې وکړي.
- موږ باور لرو چې نژاد، ټولنیز اقتصاد، ژبه، کلتوري مخینه او نورې استثناوې باید د زده کوونکو د لاسته راوړنو اړوند د وړاندوینې په توګه ونه کارول شي.
- موږ باور لرو چې زموږ زده کوونکي باید خپل یو غږ ولري، خپل ځان په ښوونځي کې ووینې او له هغو لویانو سره اړیکه ولري چې دوی ته درس ورکوي.
- موږ باور لرو هغه څه چې موږ یې هره ورځ په ټولګي کې ترسره کوو د زده کوونکو پر زده کړه خورا لوی اغېز لري.
- موږ باور لرو که موږ د ټولو زده کوونکو اړتیاوې پوره کوو، نو باید موږ په دوامداره توګه زده کړه وکړو او په عملي بڼه وده وکړو.
- موږ باور لرو چې موږ باید په قصدي توګه له نورو سره همکاري وکړو او زموږ د فعالیتونو د لا ښه کولو لپاره مالومات د یو لارښود په توګه وکاروو.
- موږ باور لرو چې د هر ماشوم په زده کړه کې زموږ کورنۍ مهم شریکان دي.

# بېساري امکانات

دا **زموږ د نږدې 3000 کارمندانو لپاره د وياړ او فخر** ځای دی چې زموږ زده کوونکو، کورنیو او له کلتوري پلوه بډایه متنوعې ټولنې ته خدمات وړاندې کوي چې Federal Way دولتي ښوونځي تشکیلوي. والدین، پالونکي او د ټولنې غړي پر موږ تکیه کوي چې زموږ د ارزښتمنو سرچینو له مخې - زموږ ماشومانو ته ډېره پاملرنه وکړو. زموږ په تعلیمي حوزه کې **هر زده کوونکی بېساري وړتیاوې، ډالۍ او استعدادونه** له ځان سره لري. د کارمندانو په توګه، دا زموږ **مسؤولیت** دی چې د زده کوونکو لپاره **د زده کړې، پرمختګ او بریالیتوب** شرایط رامینځته کړو. موږ ژمن یو چې هر زده کوونکي ته د سختو معیارونو پر بنسټ، کلتوري ځواب ورکوونکې زده کړې چمتو کړو، او ډاډ ترلاسه کړو چې دوی **په ښوونځي کې خپل ځان ویني، ارزښت لري او خبره یې اورېدل کېږي** او له ښوونځي سره **د یو قوي احساس له مخې تړلی وي**.



زموږ د ستراتیژیک پلان د لارښوونې له مخې به موږ په ټولو پرېکړو کې زده کوونکو ته ځای ورکړو، د دوی غږ به پورته کړو، دا هغه چاره ده چې موږ ډاډ ترلاسه کوو

## د هر زده کوونکي لپاره روښانه راتلونکی

**ډاکټره Dani Pfeiffer، د ښوونځي مدیره**

# زموږ ماموریت

د لوړو هیلو، لوړ ملاتړ او له عذر څخه پاک چاپېریال کې به د Federal Way دولتي ښوونځیو کارمندان په دوامداره توګه زده کړه کوي، د رهبرۍ چارې مخته وړي، له مالوماتو څخه استفاده او همکاري کوي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې زموږ زده کوونکي یو غږ، یوه هیله او یو روښانه راتلونکی لري.

# ځلور اساسات

**زموږ ځلور اساسات زموږ د ټولو زده کوونکو په استازیتوب زموږ د کار د بنسټ خښتې دي. دا اساسات هغه وړتیاوې دي چې له مخې یې باید موږ په دوامداره توګه د اغېزناکې زده کړې او د ماموریت د تمرکز اړوند سازماني زېربناوو ته وده ورکړو.**

**1**

**له کلتوري پلوه همغږې ښوونه او روزنه**

زموږ لومړی ستنه د تدریس او زده کړې په اړه ده، دا زموږ د سازمان تر ټولو مهمه دنده ده. موږ به ډاډ ترلاسه کړو چې ټول زده کوونکي یو ننګوونکي او معیاري نصاب ته لاسرسی لري، او دا چې لارښودي ستراتیژۍ د هر زده کوونکي د انفرادي زده کړې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره تویېر لري. زموږ ښوونیزې کړنې به زموږ د زده کوونکو پخوانۍ پوهه او کلتوري او ژبني شالید منعکس کړي.

**2**

**خوندي اقلیم او له کورنیو او ټولنې سره قوي اړیکي**

زموږ دویم ستون دا په ګوته کوي چې «ښوونځي دا چارې یوازې نه شي ترسره کولای.» له همدې امله به موږ د خپلو ټولو زده کوونکو والدین، پالونکي په تعلیمي ډګر او د Federal Way په ټولنه کې د حیاتي شریکانو په توګه راسره یو ځای کړو. موږ به د کور - ښوونځي - ټولنې تر منځ د زده کوونکو بریالیتوب، فعالو اړیکو، او هدفي شریکانو د غږ لپاره د ګډ مسؤولیت له مخې باور او متقابل درناوي ته وده ورکړو.

**3**

**اغېزناک، پاملرنه کوونکي، له کلتوري پلوه وړتیا لرونکي ښوونکي، مشران او کارمندان**

زموږ درېیمه ستنه د خلکو پر پانګونې باندې تمرکز کوي. دا زموږ د ښوونځي سیستم په هره برخه کې د تکړه او ژمنو کارمندانو د جذب، پراختیا او ساتلو پر اهمیت ټینګار کوي، نو د Federal Way دولتي ښوونځي هغه ځای دی چې دلته لوی استعدادونه د کار کولو لپاره غوره کېږي. موږ به د مسلکي تمرین او حساب ورکولو روښانه معیارونه رامینځته کړو، او موږ به د ښوونکو، مشرانو او کارمندانو لپاره د بېلابېلو دوامداره زده کړو فرصتونه چمتو کړو.

**4**

**د مالوماتو پرله پسې ښه والی**

زموږ ځلورمه ستنه د «ټولو اداره کولو» په اړه دی چې په هره کچه زموږ پر ماموریت تمرکز کوي، د سمون، انضباطي تطبیق او تمرکز چارو ته وده ورکوي. موږ به د حقایقو پر بنسټ پرېکړې وکړو، نه د نظر له مخې. برسېره پردې به موږ د تدریس، زده کړې او مشرتابه د سمون لپاره پرله پسې او پر وخت د ارزونې څخه استفاده وکړو او موږ به زموږ د ښوونځي په ټول سیستم کې د اخلاقي مسؤولیت په توګه دوامداره پرمختګ ته وده ورکړو.

## زموږ
# د عمل
## تیوري

### مرکزي دفتر
**که چیرې د مرکزي دفتر ټیم ټول غړي** د مساواتو او شواهدو پر اساس فعالیتونه رهبري کړي، د معلوماتو له مخې د ملاترو سیسټمونو په رامینځته کولو او تنظیمولو کې همکاري وکړي، د کلتوري پلوه ځواب ویونکي د لارښود مشرتابه وړتیاوې رامینځته کړي او د کورنۍ او ټولنې غړي په اړوندو فعالیتونو راښکیل کړي

### مدیران
**بیا به د لارښوونکو مشرانو په توګه، ټول مدیران د سرچینو** په ترتیبولو سره، د لوړ کیفیت PD او قوي نظرونو د چمتو کولو له لارې د لوړو هیلو او توقعاتو اړوند د مساوات کلتور رامینځته کړي چې د معیارونو پر بنسټ، د معلوماتو پر اساس، سخت، کلتوري ځواب ورکوونکي لارښوونو د پلي کولو لپاره د کارمندانو ظرفیت لوړوي او د زده کوونکي او کورنۍ نظرونو ته پکې ځای ورکړي

### ښوونکي او ملاتړي کارمندان
**کوم چې د ټولو ښوونکو او ملاترو کارمندانو حمایت وکړي** تر څو د هر زده کوونکي ارزښت په ژوره توګه درک کړي او د هر زده کوونکي غړ لوړ کړي تر څو د معیارونو پر بنسټ، د معلوماتو پر اساس، سخت او کلتوري ځواب ویونکي لارښوونې پلي کړي چې د زده کوونکو علمي او ټولنیزو عاطفي زده کړو ملاتړ کوي

### زده کوونکي
**کوم چې داړ به ترلاسه کړي چې هر زده کوونکی** د کالج څخه فارغ شوي او مسلک ته چمتو دي او په تشدیدي درسونو کې د فعاله برخه اخیستنې په پایله کې لوړ معیارونه ترلاسه کوي، په خپل تعلیمي چاپیریال کې ځان وویني، د خپل غږ کارولو او د کلتوري پلوه په یو دوامدار چاپیریال کې د مالکیت، خوندیتوب او تړاو احساس وکړي.

*عملي تیوري دا ده چې موږ به څنګه په *FWPS* کې د غوره والي او مساوات لپاره خپل لید احساس کړو.

# د غوره والي او مساوات لپاره لید

FWPS په دې باور دی چې هر یو زده کوونکی بې شمېره امکانات لري او دې ته ژمن دي چې ډاډ باید ترلاسه شي چې ټول زده کوونکي، د هر توکم، ټولګي، ژبني شالید، معلولیت، جنسیت پېژندنې/اظهار، جنسي تمایل، او نورو استثناوو لرونکي کولای شي په لوړه کچه وده وکړي او لاسته راوړنې ولري. موږ به د نژاد پرستۍ ضد او ټول شموله فعالیتونو کې ښکیل و اوسو تر څو هغه خنډونه وپېژنو او له مینځه یې یوسو چې د عدم تناسب لامل کیږي.

### هر زده کوونکی به:

- په دې پوه شي چې دوی بې شمېره امکانات لري او کولای شي په لوړه کچه دا امکانات ترلاسه کړي
- په سختو زده کړو او کورسونو کې په فعال ډول ښکیل شي
- مالیکیت ولري او پر خپلو زده کړو نفوذ ولري
- د کلتوري پلوه دوامداره خبرو اترو او تعاملاتو کې ښکیل شي
- دا چې دوی څوک دي هماغسې ولیدل شي، د دوی غږ واوریدل شي، ارزښت ورکړل شي او و لمانځل شي
- په ښوونیز چاپیریال کې په ښوونځي کې له ټولنیز او احساساتي پلوه خوندي اوسي: نصاب، لارښوونې، د ښوونځي او ټولګي کلتور، او فعالیتونه

### هر کارمند به:

- د زده کوونکي د غږ او ګډ ارزښت نمایندګي وکړي
- له کلتوري پلوه ځواب ورکوونکي وي، د معلوماتو په اړه د توکمپالنې ضد کړنو ادغام ته ژمنتیا ولري او د زده کوونکو تعلیمي چارو ته د ودې ورکولو پر وړاندې خنډونه لرې کړي، چې د ډیرو لاسته راوړنو لامل کیږي
- د کلتوري پلوه دوامداره خبرو اترو او تعاملاتو ته لاره هواره کړي
- د مسلکي او اشخاصو په توګه دوی ته وکتل شي، ارزښت ورکړل شي او درک شي
- د ښه راغلاست چارې مخ ته یوسي، اړیکې ونیسي، او له کورنۍ سره د زده کوونکي د بریالیتوب اړوند مالومات شریک کړي
- زموږ د حوزې ارزښتونه او باورونه ژوندي وساتي

### هره کورنۍ به:

- په دې وپوهیږي چې د خپلو زده کوونکو په تعلیمي چارو کې دوی ته د شریکانو په توګه کتل کېږي، غږ یې اوریدل کېږي او ارزښت ورکول کېږي
- د ښه راغلاست احساس وکړي، ورسره وصل شي او زموږ د ښوونځیو او تعلیمي حوزې سره د تړاو احساس ولري
- د پوهانو اکاډمیک او ټولنیز - احساساتي اهدافو او پرمختګ چارو په شاوخوا کې د کارمندانو سره د خبرو اترو لپاره ځواکمن احساس وکړي
- د خپلو زده کوونکو د بریالیتوب ملاتړ لپاره اړین معلومات او سرچینې ورته چمتو شي








# د زده کوونکو زده کړه

✷ په لوړه کچه لومړیتوب لرونکي اقدامات - د پلي کولو په مرحله کې د لومړیتوب ټینګار

**مساوات په دې مانا دی.............. د پرمختګ اقدامات ............................................ اهداف**

هر زده کوونکی علمي او ټولنیز - عاطفي مهارتونه ترلاسه کوي تر څو له درېیم ټولګي څخه په بریالۍ توګه فارغ شي.



- د زده کوونکو سلنه د لوړ کیفیت ښوونځي د مخه پروګرامونو کې شامل شوي
- د مغو زده کوونکو سلنه چې د لیک لوست او ریاضي په برخه کې د PreK دولتي معیارونه پوره کوي
- ✷ د وړکتون لپاره د زده کوونکو سلنه، لکه څنګه چې د WAKIDS ارزونو لخوا اندازه کیږي هماغسې چمتو ده
- د مغه زده کوونکو سلنه چې د زده کړې د لومړیو کلونو لپاره د ټولنیز عاطفي زده کړې (SEL) معیارونه پوره کوي
- ✷ د درېیم ټولګي په پای کې د انګلیسي ژبې هنرونو (ELA) او ریاضیاتو په برخه کې د مغه زده کوونکو سلنه چې د ټولګي په کچه معیارونه یې بشپړ کړي وي یا له مغه څخه ډېر وي

## لومړني کلونه:

### د بنسټ جوړول

هر زده کوونکی به وړکتون ته داخلیږي چې د ټولنیزو - عاطفي مهارتونو سره یو ځای زده کړې ته چمتو وي چې هر زده کوونکی هڅوي چې د درېیم ټولګي په پای کې د انګلیسي ژبې هنرونو (ELA) او ریاضیاتو په برخه کې د ټولګي په کچه معیارونه پوره کړي یا یې ډیر کړي.

تر *2024* پورې *80٪* د درېیم ټولګي زده کوونکي به په *ELA* کې د ټولګي په کچه معیارونه بشپړ کړي وي یا به یې لوړ کړي وي.

هر زده کوونکی د خپل ځان او د نورو د کلتوري شالیدونو او د زده کړې اړوند شرایط پیژني، پرې پوهیږي او دا شرایط مني، تر څو د ځان او نورو استازیتوب وکړي.



- ✷ د زده کوونکو لږ تر لږه 90٪ د ټولګي په تدریسي وخت کې برخه اخلي
- ✷ د زده کوونکو او کورنیو هغه سلنه چې د زده کوونکو په مشرۍ کنفرانسونو کې برخه اخلي
- د زده کوونکو هغه سلنه چې د معیارونو پر بنسټ راپور کارت کې د غیر اکاډمیک چلند په اړه شته توقعات بشپړوي
- ✷ لکه څنګه چې د لید اړوند سروې لخوا اندازه کیږي، د زده کوونکو هغه سلنه چې فکر کوي د دوی ښوونځی خوندي دی او دوی ته په کې ښه راغلاست ویل کیږي
- د هغو زده کوونکو سلنه چې له فراغت وړاندې یې د ټولنې لپاره 24 ساعته خدمات بشپړ کړي وي

## ټول ماشومان:

### بریالي، باوري، مسؤولیت لرونکي اشخاص

هر زده کوونکی به ځواکمن او چمتو شي چې د ټولنې لپاره یو مثبت او کټور غړی وي تر څو شخصي مسؤولیت ترسره کړي.

تر *2024* پورې به د ځانګړو معلوماتو په برخه کې د پام وړ توپیر شتون ونلري.

لکه څنګه چې د لید اړوند سروې لخوا اندازه ګیري شوې ده، د *2024* په را رسېدو سره به *100٪* زده کوونکي داسې احساس کړي چې د دوی ښوونځی خوندي چاپېریال لري او دوی ته په کې ښه راغلاست ویل کېږي.

هر زده کوونکی په فعاله توګه په انتقادي او تخلیقي فکر، هدف ټاکلو او د کلتوري وړتیا په ښودلو کې بوخت وي.



- د هغه زده کوونکو سلنه چې لږ تر لږه په یو غیر نصابي فعالیت کې ښکیل دي
- د هغه زده کوونکو سلنه چې د انتقالي زده کړې د کلونو په پای کې د فراغت پروژې په بریالیتوب سره چمتو او وړاندې کوي
- ✷ لکه څنګه چې د نظرې سروې له مخې اندازه شوې، د هغه زده کوونکو سلنه چې په اړوندو فعالیتونو کې ښکیل دي او ننګونې لري
- ✷ لکه څنګه چې د تعلیمي مشرتابه د 5 ابعادو د ښوونې او روزنې مرکز (CEL›s 5D) او د واشنګټن د ښوونځي د مدیرانو ټولنې (AWSP) د مشرتابه د چوکاټ له مخې اندازه کیږي، د هغو کارکوونکو شمیر چې د زده کوونکو د ښکیلتیا په فعالیتونو کې ماهر یا تویږ لري

## فعال زده کوونکي:

### ښکیل، ځواکمن انتقادي فکر کوونکي

هر زده کوونکی به د دوی د زده کړې د مالکیت له مخې ځواکمن وي او په بشپړ ډول د انتقادي او تخلیقي فکر کوونکو په جوړولو کې به بوخت وي.

لکه څنګه چې د نظر سروې لخوا اندازه شوی دي، تر *2024* پورې، *100٪* زده کوونکي به په اړوندو کارونو کې ښکیل وي او ننګونې به ولري.

# د زده کوونکو زده کړه

✸ د - په لوړه کچه لومړیتوب لرونکي اقدامات
په لومړیتوب ټینګار د کې مرحله په کولو پلي

**مساوات په دې مانا دی.................. د پرمختګ اقدامات .................................................................. اهداف**

هر زده کوونکی د یو متعلم په توګه کلتوري باور رامینځته کوي او په جدیت سره خپله پوهه او مهارتونه د نویو او مختلفو تجربو له لارې پلي کوي.



- ✸ لکه څنګه چې د دولتي ارزونو لخوا اندازه کیږي، د هغه زده کوونکو سلنه چې په اصلي مضامینو کې د ټولګي په کچه معیارونه پوره کوي
- ✸ د هغو زده کوونکو سلنه چې د معیارونو پر بنسټ د درجه بندۍ په سیستم کې ورتیا څرګندوي (په هر مضمون کې)
- د هغو زده کوونکو سلنه چې په الجبر کې شامل وي او د 3.0 درجو په اوسط سره اتم ټولګی بشپړوي
- ✸ د هغو زده کوونکو سلنه چې په پرمختللي کورسونو کې برخه اخلي او د لیسانس درجې ترلاسه کوي
- د هغو زده کوونکو سلنه چې په لیک لوست پوهیږي
- د هغو زده کوونکو سلنه په معیاري ارزونو کې معیار پوره کوي

4

### د منځپانګې د ساحې ورتیا:

## په ټولو مضامینو کې مهارت

هر زده کوونکی به د بریالیتوب لپاره مساوي فرصت ولري او د هر ټولګي په پای کې به په ټولو مضامینو کې د فعالیت معیارونه پوره کړي یا به یې ډیر کړي.

تر *2024* پورې، به د 8م ټولګي *80٪* زده کوونکي په *ELA* کې د ټولګي په کچه معیارونه بشپړ کړي یا به له هغه څخه لوړ شي.

---

هر زده کوونکی - د ژر پیل او فعال ملاتړ له مخې - د انعطاف وړ، انفرادي لیږد پلان رامینځته کوي/ کاروي تر څو د ګړندي اکاډمیک فعالیت، د فراغت پر لور ثابت پرمختګ، مسلکي پوهاوي او تحقیقي چارو ته وده ورکړي.



- له وړکتون څخه لومړني ښوونځي ته، منځني ښوونځي، عالي ښوونځي ته او د ثانوي دورې وروسته تجربو ته د لیږد کچې
- ✸ د نهم ټولګي د هغه زده کوونکو سلنه چې پر خپل وخت به فارغ شي
- کالج ته د شمولیت اړوند ازموینو (ACT، PSAT، SAT) او ASVAB کې د زده کوونکي د نمرو زیاتوالی
- د هغو زده کوونکو سلنه چې د STEAM (ساینس، ټکنالوژی، انجنیري، هنرونو او ریاضیاتو) تجربې لري
- ✸ د مسلکي پلان لیک سره مل د هغه زده کوونکو سلنه چې لږترلږه د دغه مواردو څخه یوه ته رسیږي: په کالج کې شمولیت، نظامي زده کړې، سوداګریزه/تخنیکي روزنه، د صنعت په برخه کې تصدیق/ زده کړې
- ✸ د هغو زده کوونکو سلنه چې د کالج اړوند بورسونو، FAFSA او WASFA لپاره غوښتنلیکونه بشپړوي
- ✸ د عالي لیسې څخه د فراغت کچې زیاتوالی او له زده کړې څخه د تېښتې د کچې کمښت
- د هغو فارغ شویو زده کوونکو سلنه چې په کالج کې دوه یا ډیر کلونه زده کړو ته ادامه ورکوي او د کالج یا له هغه څخه وروسته ثانوي سند ترلاسه کوي
- ✸ لکه څنګه چې د ساینسي ارزونې لخوا اندازه شوي د هغه زده کوونکو سلنه چې په تشدیدي اکاډمیکو کورسونو کې شامليږي

5

### تر فراغت پورې دوام:

## د بریالي انتقال پروګرام له لارې د عالي لیسې څخه فراغت

هر زده کوونکی به په بریالیتوب سره په خپل ښوونځي کې د بریالي انتقال مهمه دوره تیره کړي، او د لیسې څخه به فارغ شي چې د کالج، مسلک او له هغه وروسته د ثانوي تجربو لپاره چمتو وي.

د 2024 په راتګ سره به د لوړې کچې ټولګیو ٪95 پر خپل وخت فارغ شي.

# د تعلیمي حوزې اړوند مهم ټکي

## 181
زده کوونکو په 2023 کې د لیک لوست خځه فارغ شوي دي - چې دا تر ټولو لوی شمیر دی!

## 85%
**د درجې کچه**
**د 2023 ټولګي لپاره**، سره له دې چې د کوویډ اړوند ننګونو او اغیزو سره مخ وو.

## 2,287
د 2023 ټولګي څخه 2,287 زده کوونکو تیر کال د **AP، IB** یا **کیمبرج** کورس په بریالیتوب سره سرته رسولی دی.

## 990
**پیژندل شوي صنعتي سندونه (IRC)** د 2023 ټولګي لخوا ترلاسه شوي دي.

**د انجنیرۍ، ټکنالوژۍ، ساینس او STEM ریاضیاتو**

غیر نصابي ورانديزونه چې په دې کې روبوټکس، د STEM متمرکز CTE کورسونو پراختیا، کوډ کول، د دریم ټولګي لپاره کمپیوټر ساینس، د STEM ملګرتیا او نور ډیر څه شامل دي.

## 80%
د 2020 په ټولګي کې 80٪ زده کوونکي چې په 4 کلنه تعلیمي موسسه کې شامل شوي د لومړي کال په اوږدو کې یې زده کړه ته دوام ورکړی دی.

**FWPS په 2023-24 ښوونيز کال کې له 9 څخه تر 12 ټولګیو زده کوونکو ته د لیک لوست کریډټ لپاره د ورتیا 47 کورسونه وړاندې کوي.**

## 4,443
زده کوونکي په 2022-23 ښوونيز کال کې د CTE لیک لوست کریډټ کورسونو کې شامل شوي دي.

**د ټولنیزو سازمانونو سره قوي ملګرتیا** چې په Federal Way دولتي ښوونځیو کې د زده کوونکو ملاتړ کوي.

## 82%
د 2022 کال فارغ شوي ټولګي کې 82٪ زده کوونکو یو یا **څو د لیک لوست اړوند کریډیټي کورسونه اخیستي دي.** دا د سیمې اړوند نقشه کې د ټاکل شویو موارد‌و له اوسط څخه پورته اندازه ده (د اړوندي سیمه ییزې نقشې څخه دوهمه لوړه کچه).

## نوښت لرونکي
مسلکي او تخنیکي زده کړې (CTE) فرصتونه، چې په دې کې د زده کوونکو - متشبثینو لپاره د INCubatoredu کورس او د زده کړې مخکې پروګرام هم شامل دی

## 50%
**د 2021 په ټولګي** کې 50٪ زده کوونکي د فراغت وروسته په لومړي کال کې د 2 یا 4 کلن کالج برنامه کې شامل شوي

## 68%
د 2020 کال په ټولګي کې 68٪ زده کوونکي چې په 2 کلنه تعلیمي موسسه کې شامل شوي دي د لومړي کال څخه هاخوا ته یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړی دی.

## د متمرکز پرمختګ ساحه
- د هغو زده کوونکو شمیر چې د ریاضیاتو او انګلیسي ژبې هنرونو (ELA) په برخه کې یې د ټولګي په کچه معیارونه پوره کړي دي یا له دې معیارونو څخه پورته شوي دي.
- د هغو زده کوونکو د سلنې زیاتوالی چې لږ تر لږه د ټولګي په تدریسي وخت کې یې 90٪ برخه اخیستې وي.
- تشدیدي کورسونو ته د لاسرسي زیاتول او په تشدیدي کورس کې ګډون کولو ته هڅول ترڅو د ثانوي دورې څخه وروسته د زده کړې او روزنې په ټولو هڅو کې بریالیتوب یقیني کړي.

---

## 107 ژبې
- انګلیسي (13,250 زده کوونکي)
- هسپانوي (3,806 زده کوونکي)
- دري (649 محصلین)
- اوکرایني (401 زده کوونکي)
- پښتو (356 زده کوونکي)
- روسي (338 زده کوونکي)
- ویتنامي (249 زده کوونکي)
- سومالیایي (205 زده کوونکي)

## 2,917 کارمندان
- 1,634 ښوونکي

## هغه ساحه چې خدمات پکې وړاندې کیږي:
**35 مایله مربع**
- Federal Way
- Des Moines
- Auburn
- Kent
- Areas of unincorporated King

## له 21,000 څخه زیات زده کوونکي
- 0.4٪ هندي امریکایان/ د الاسکا اصلي اوسېدونکي
- 13.7٪ آسیایي
- 15.3٪ تور پوستي/ افریقایي الاصله امریکایان
- 33.3٪ هسپانوي/لاتیني
- 6.1٪ د هاوایي اصلي اوسېدونکي/ د آرام سمندر د نورو ټاپوګانو اوسیدونکي
- 11.4٪ دوه یا ګڼ توکمیز
- 19.9٪ سپین پوستي

- 30.4٪ ګڼ ژبیز
- 66.4٪ وړیا/کمه دوډۍ
- 14.2٪ ځانګړې زده کړې

## 37 ښوونځي
- 20 لومړني ښوونځي
- 3 له ورکتون څخه تر 8 ټولګي لرونکي ښوونځي
- 6 منځني ښوونځي
- 4 عالي لېسې
- 4 د ښوونځي بدیل ځایونه

## ډاکټره Dani Pfeiffer، د ښوونځي مدیره

### د ښوونې او روزنې بورډ:

***Quentin Morris***
د 1 تعلیمي حوزې د بورډ مشر

***ډاکټره Jennifer Jones***
د 2 تعلیمي حوزې د بورډ مشره

***Luckisha Phillips***
د دریمې تعلیمي حوزې د بورډ مشره

***Trudy Davis***
د 4 تعلیمي حوزې د بورډ مشر

***Joan Marie Murphy***
د 5 تعلیمي حوزې د بورډ مشر

---